د لوړو زده کړو وزارت
خــراسان پـــوهنتون
د اقتصـــاد پوهنځی

# اقتصاد پوهنځی



Address: Zone: III, Jalalabad City, Nangarhar- Afghanistan. Web Page: www.khurasan.edu.af
Contacts#: 0780829820 - 0783707172 - 0784901901 Email Add: info@khurasan.edu.af



## Join the Pace and Lead the Future

## خراسان پوهنتون د اقتصاد پوهنځی:

اقتصاد پوهنځی د خراسان پوهنتون هغه لمړنی پوهنځی دی چې په۱۳۸۶ کال کې یې د یوې ځانګې (BBA) په لرلو سره خپل فعالیت پیل او اوس مهال د (MBA) برنامه هم لري. تدریسي چارې یې په ملي او بین المللي معیارونو په پښتو او انګلیسي ژبو د پیاوړو او باتجربه داخلي او خارجي استادانو لخوا پرمخ بیول کیږي. دې پوهنځي کې تر دې دمه د لیسانس او ماسترۍ په سطح سلګونه کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي. دا پوهنځی دخپل علمي کادر د تحصیلي کچې د لوړولو او محصلانو د روزلو لپاره د بېلابېلو ملي او بین المللي پوهنتونونو د اقتصاد پوهنځیو سره تواميتونه لري چې پرمټ یې د نوموړي پوهنځي یو شمېر استادان او محصلان په مختلفو هېوادونو کې د ماسترۍ او دوکتورا په زده کړه بوخت دي. اقتصاد پوهنځی دخپلو محصلینو دانترنشیپونو د اجرأ په منظور د یو لړ سکتوري مؤسساتو لکه مسوفیت، بانکونه، د صنعت او سوداګرۍ خونې، ګمرک، اقتصاد ریاست، تصدیو، کمپنیو او فبریکو سره پروتوکولونه امضاء کړي چې له مخې یې محصلان پکې خپل علمي کارونه ترسره کړي



ددې پوهنځي او رشتې مینه وال کولای شي د دې لاندې ځانګړتیاو په پام کې نیولو سره هغه انتخاب کړي:

پېژندل شوی تحصیلي سند (دېپلوم).
پیاوړي، تجربه لرونکي او مسلکي استادان.
د رشتې اړوند غني کتابتون.
په پرمختللو وسایلو مجهز تدریسي ټولګی، د کمپیوټر او انترنیت وړیا اسانتیاوې.
ارام، خوندي مسلکي ـ تحصیلي چاپېریال.
پیاوړي، تجربه لرونکي او په کار پوه اداري کارکوونکي.
اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونو ته بشپړ درناوی.

## د اقتصاد پوهنځي لرلید، ماموریت، اهداف او ارزښتونه:

### لرلید (Vision)

اقتصاد پوهنځې غواړي چې د لوړو زده کړو او څېړنو په مدد سره د اقتصاد په برخه کې مخکښ پوهنځې وي.

### ماموریت (Mission)

اقتصاد پوهنځې د ټولو ملي او نړیوالو معیارونو سره سم د ملی او نړیوالو مجربو استادانو، عصری ټکنالوجی، علمي څېړنی او تدریسی میتودونو په لرلو سره د هیواد اقتصادي پرمختګ شوني کوي.

### هـــدف (Goal)

پوهنځی خپل ماموریت ته په کتو ژمن دی؛ چـې د نړیوالو معیارنو سره سم علمـــي کادرونه پـه دندوو ګمـــاري او د زده کړې یو داسې چاپېریال رامـــنځ ته کـــړي چې د مـــلي اسلامـــي ارزښـــتونو ښودونکـــی او له عصـــري مـــېتودونـــو په کې ګټـــه اخیســـتل شـــوې وي تر څو زده کړېالان د عصر د غـــوښتنو ســـره ســـم د ټولنې د خدمت لپاره وروزل شـــي.






## د اقتصاد پوهنځي BBA پروګرام علمي مقاصد:

- د کاروبار په اساسي اصولو او محتویاتو د محصل پوهاوی.
- په کاروباري مفاهمه او د هغې په مؤثره اجرأ کې د محصل توانمندي زیاتول.
- په لوړ کېفیت سره د شفاهي معلوماتو په ارائه کې د محصل وړتیا زیاتول.
- د کاري ټیم د یو فعاله غړي په توګه د محصل اماده کول.
- د نوې تکنالوژۍ په کارونه کې د محصل وړتیا زیاتول.
- په کاروبار کې د نوې تکنالوژۍ په کارولو د محصل مهارت زیاتول.
- د نړیوال کاروبار په اصولو او طریقو او بېلابېلو خلکو سره دګډ کار کولو په روشونو د محصل پوهاوی.
- په نړیوال چاپیربال کې د بېلابېلو هېوادونو، نژادونو، ژبو، کلتورونو او عنعناتو لرونکو خلکو سره د کاروبار په فرصتونو او ننګوونو د محصل پوهاوی.
- په کاروبار کې د اخلاقي نورمونو او اصولو څخه د استفادې په هنر د محصل سمبالول.
- د کاروبار اړوند مسائلو او مشکلاتو د مناسب حل په خاطر د یو نوښتګر او مبتکر مدیر په توګه د محصل پوهاوی.




## د اقتصاد پوهنځي پوهنځي ماسټرۍ (MBA) برنامه:

خراسان پوهنتون د ماسټرۍ برنامه د دې پوهنتون د اقتصاد پوهنځې د کاروباري اداری (Business Administration) په رشته کې په کال۱۳۹۲ کې ایجاد او تر دې دمه یې د رهبرۍ او مالي څانګو څخه ګڼ شمېر فارغان ټولنې ته وړاندې کوي. دد ېبرنام ېتحصیلي نصاب د منطقي او نړۍ د عین رشتې د مشهورو برنامو د تحصیلي نصابونو څخه د هېواددد اړتیاوو او شرایطو په پام کې نیولو سره د مجربو داخلي او خارجي استادانو پر مټ تهیه او د څلورو سمسترونو په چوکا ټکې تنظیم شوي چې ټول ټال (۴۵) کریدته کیږي او محصل یې باید د تیزس د تهیې، لیکنې، ارائي او دفاع ترڅنګ حد اقل د دوه او حد اعظم د در ېکلونو په موده کې ترلاسه کړي تر څو فارغ وګڼل شي.

## د اقتصاد پوهنځي د لیسانس برنامه:

د اداره او تجارت ځانګی لیسانس برنامی (BBA) خپل فعالیت په ۱۳۸۶ ه ش کال کی پیل کړی دی چې تر دی دمه یی د مدیریت په برخه کی ګڼ شمېر فارغان ټولنی ته وړاندی کړی دي. د نوموړې برنامی تدریسی چاری په ملی او نړیوالو معیارونو په پښتو او انګلیسی ژبو د علمی، مسلکی، پیاوړو او مجربو داخلی او خارجی استادانو له خوا پرمخ وړل کیږي. دا برنامه د اقتصاد پوهنځي په مرسته د علمی کادرونو د تحصیلی سطحی د لوړولو او محصلانو د روزولو لپاره د بېلابېلو ملی او نړیوالو پوهنتونونو سره تواميتونه لري، چې پر مټ د نوموړی ځانګی یو شمېر استادان او محصلان په مختلفو هېوادونو کی د ماستری او دوکتورا په زده کړو بوخت دي. نوموړی برنامه د اقتصاد پوهنځي په مرسته د یو لړ سکتوری ادارو سره لکه مستوفیت، بانکونه، د صنعت او سوداګری خونی، ګمرک، اقتصاد ریاست، تصدی، کمپینیو، فابریکو او داسی نورو سره شریک تواميتونه لري، چی له مخی یی محصلانو ته د عملی زده کړو زمینه برابره شوی ده. نوموړی برنامی تر دمه سلګونه تنه فارغان ټولنی ته د خدمت په موخه تهیه کړي دي.





## اقتصاد پوهنځي د تحصیل اجوره:

د خراسان پوهنتون د علمي شورا لخوا د تحصلي اجورې اندازه د پوهنځیو په توپیر په لاندې ډول تصویب شوې ده:

د اقتصاد (BBA) پوهنځي د څلور کلنې لیسانس دورې اجوره (۱۴۴۰۰۰) افغانۍ.
که چېرې نوموړی اندازه مبلغ ټول یوځای ورکړل شي نو محصل ته (۱۰) سلنه تخفیف ورکول کیږي.
که په دوو قسطونو کې ورکړل شي (۵سلنه) تخفیف او که په څلورو قسطونو کښی ورکړل شي (۳سلنه) تخفیف او که په شپږو قسطونو کې ورکړل شي (۲سلنه) تخفیف ورکول کیږي.
خو که پورتنی مبلغ په ۴۸قسطونو کې ورکړل شي د تحصیل پوره اجوره ترې اخېستل کیږي. اما که محصل خپل فیس په ټاکلي وخت تادیه نه کړي نو د هرې مباشتې په تېرېدو سره ۳۰۰ افغانۍ جریمه پرې چارج کیږي.
د یادونې وړ ده چې په هېواد کې د انفلاسیون او د قیمتونو د سطحې د لوړوالي په صورت کې د تحصیل په اجوره کې هم بدلون راتلای شي.

## د اقتصاد پوهنځي استادان:

ـ دکتوران  تنه. ـ د دوکترا په جریان کې تنه. ـ ماستران تنه.

# BBA

# Bachelor in Business Administration

د لوړو زده کړو وزارت
خــراسان پــوهنتون
د اقتصـــاد پوهنځی
اداره او تجارت څانګه



Address: Zone: III, Jalalabad City, Nangarhar- Afghanistan. Web Page: www.khurasan.edu.af
Contacts#: 0780829820 - 0783707172 - 0784901901 Email Add: info@khurasan.edu.af



## Join the Pace and Lead the Future

## اقتصاد پوهنځي اداره او تجارت څانګې لیسانس برنامې لنډه پیژندنه:

د اداره او تجارت څانګی لیسانس برنامی (BBA) خپل فعالیت په ۱۳۸۶ ه ش کال کی پیل کړی دی چې تر دی دمه یی د مدیریت په برخه کی ګڼ شمیر فارغان ټولنی وړاندی کړی دي. د نوموړی برنامی تدریسی چارې په ملی او نړیوالو معیارونو په پښتو او انګلیسی ژبو د علمی، مسلکی، پیاوړو او مجربو داخلی او خارجی استادانو له خوا پرمخ وړل کیږي. دا برنامه د اقتصاد پوهنځي په مرسته د علمی کادرونو د تحصیلی سطحی د لوړولو او محصلانو د روزولو لپاره د بیلابیلو ملی او نړیوالو پوهنتونونو سره توامیتونه لري، چي پر مټ د نوموړی څانګی یو شمیر استادان او محصلان په مختلفو هیوادونو کی د ماستری او دوکتورا په زده کړو بوخت دي. نوموړی برنامه د اقتصاد پوهنځي په مرسته د یو لړ سکتوری ادارو سره لکه مستوفیت، بانکونه، د صنعت او سوداګری خونی، ګمرک ، اقتصاد ریاست، تصدی، کمپینیو ، فربریکو او داسی نورو سره شریک توامیتونه لري، چی له مخی یی محصلانو ته د عملی زده کړو زمینه برابره شوی ده. نوموړی برنامی تر دمه سلګونه تنه فارغان ټولنی ته د خدمت په موخه تهیه کړي دي.

نوموړي برنامه ددې تر څنګ لاندې ځانګړتیاوې لري.



ددې برنامې مینه وال کولای شي د دې لاندې ځانګرتیاو په پام کې نیولو سره هغه انتخاب کړي:

- پېژندل شوی تحصیلي سند (دیپلوم).
- پیاوړي، تجربه لرونکي او مسلکي استادان.
- د رشتې اړوند غني کتابتون.
- په پرمختللو وسایلو مجهز تدریسي ټولګی، د کمپیوټر او انترنیت وړیا اسانتیاوې.
- ارام، خوندي مسلکي ـ تحصیلي چاپیریال.
- پیاوړي، تجربه لرونکي او په کار پوه اداري کارکوونکي.
- اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونو ته بشپړ درناوی.





## اداره او تجارت څانګې لرلید، ماموریت، اهداف او ارزښتونه:

### لرلید (Vision)


د اقتصاد پوهنځي اداره او تجارت څانګه په پام کې لري چې د اداری او تجارت په برخه کې د لوړو زده کړو او څیړنی لپاره یوه ډاډمنه پیژندل شوی ادرس وي .

### ماموریت (Mission)

د اقتصاد پوهنځي اداره او تجارت څانګه ملی او نړیوالو معیارونو سره سم د ځوان کهول په روزنه ، علمی پروګرامونو او څیړنو په ترسره کولو او عصري ټکنالوژۍ په پلی کولو سره د هېواد او ټولنی پرمختګ رامنځته کوي .

### هــــدف (Goal)

۱. د وخت سره سم د اقتصادي مسایلو د حل لپاره اړوند څیړنی تر سره کول
۲. د عصري تکنالوژي څخه په ګټه اخیستنی سره د زده کړو اسانتیاوی برابرول.
۳. په اقتصادی مسایلو کښ ې د ټولنې د موجوده ستونزو حل کولو کښې ونډه اخیستنه.
۴. د اقتصادي پرمختګ په موخه د علمي کدرونو ،محصلینو روزل او علمی ظرفیت لوړول.
۵. د نړیوالو علمي معیارونو سره ځان برابرول.









## اداره او تجارت څانګې لیسانس برنامې علمي مقاصد:

- د کاروبار په اساسي اصولو او محتویاتو د محصل پوهاوی.
- په کاروباري مفاهمه او د هغې په مؤثره اجرأ کې د محصل توانمندي زیاتول.
- په لوړ کېفیت سره د شفاهي معلوماتو په ارائه کې د محصل وړتیا زیاتول.
- د کاري ټیم د یو فعاله غړي په توګه د محصل اماده کول.
- د نوې تکنالوژۍ په کارونه کې د محصل وړتیا زیاتول.
- په کاروبار کې د نوې تکنالوژۍ په کارولو د محصل مهارت زیاتول.
- د نړیوال کاروبار په اصولو او طریقو او بېلابېلو خلکو سره دګډ کار کولو په روښونو د محصل پوهاوی.
- په نړیوال چاپیرېال کې د بېلابېلو هېوادونو، نژادونو، ژبو، کلتورونو او عنعناتو لرونکو خلکو سره د کاروبار په فرصتونو او ننګوونو د محصل پوهاوی.
- په کاروبار کې د اخلاقي نورمونو او اصولو څخه د استفادې په هنر د محصل سمبالول.
- د کاروبار اړوند مسائلو او مشکلاتو د مناسب حل په خاطر د یو نوښتګر او مبتکر مدیر په توګه د محصل پوهاوی.





## اداره او تجارت څانګې لیسانس برنامې د تحصیل اجوره:

د خراسان پوهنتون د علمي شورا لخوا د تحصلي اجورې اندازه د پوهنځیو په توپیر په لاندې ډول تصویب شوې ده:

د اقتصاد (BBA) پوهنځي د څلور کلنې لیسانس دورې اجوره ( ۱۴۴۰۰۰ ) افغانۍ.

که چېرې نوموړی اندازه مبلغ ټول یوځای ورکړل شي نو محصل ته (۱۰) سلنه تخفیف ورکول کیږي.
که په دوو قسطونو کې ورکړل شي (۵سلنه) تخفیف او که په څلورو قسطونو کښې ورکړل شي (۳سلنه) تخفیف او که په شپږو قسطونو کې ورکړل شي (۲سلنه) تخفیف ورکول کیږي.
خو که پورتنی مبلغ په ۴۸قسطونو کې ورکړل شي د تحصیل پوره اجوره ترې اخېستل کیږی. اما که محصل خپل فیس په ټاکلي وخت تادیه نه کړي نو د هرې میاشتې په تېرېدو سره ۳۰۰ افغانۍ جریمه پرې چارج کیږي.
د یادونې وړ ده چې په هېواد کې د انفلاسیون او د قیمتونو د سطحې د لوړوالي په صورت کې د تحصیل په اجوره کې هم بدلون راتلای شي.

### اداره او تجارت څانګې لیسانس برنامې استادان:

په نوموړې برنامه کې د ماسټرۍ او دوکتورا په کچه مجرب استادان تدریس کوي.